# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۱۴

نېټه: ۱۴۰۳/۱۲/۲۹



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي او د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- له بغلان څخه کابل ته د برېښنا ۵۰۰ کیلو ولټ مزي د غځولو چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې

۲- ملي تدارکاتو کمېسیون کې د شاوخوا ۲,۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت اته پروژې منظورې شوې

۳- د بخش اباد بند د اوږده انحرافي تونل چارې بشپړې شوې

# له بغلان څخه کابل ته د برېښنا ۵۰۰ کیلو ولټ مزي د غځولو چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوې



انرژي د هېواد د صنعتي پرمختګونو او خلکو ته په ورځني ژوند کې د اسانتیاوو له پاره ډېره مهمه ده. اوسمهال په افغانستان کې د اړتیا وړ برېښنا نه تولیدیږي او حکومت اړ دی چې له نورو هېوادونو برېښنا وارد کړي.

په همدې اساس د ترکمنستان د زر مېګاواټه وارداتي برېښنا د لېږد له پاره د بغلان ولایت له الوان دښتي څخه د کابل - ارغندی سب سټېشن ته د برېښنا ۵۰۰ کیلو ولټ مزي د غځولو چارې روانې دي. د مسوولینو په وینا، د یادي پروژې چارې ۷۵ سلنه بشپړې شوي او پاتې چارې تر کار لاندې دي.

د پروژې موخه صنعتي پارکونو او د کابل، غزني، خوست او ننګرهار په ګډون یوشمېر ولایتونو ته د برېښنا ورکړه ده.

د ترکمنستان د واردېدونکې برېښنا له پاره په کابل کې د ارغندی سب‌سټېشن د پراختیا چارې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ١٤٠٣ کال د چنګاښ په اوومه نېټه پرانیستل شوې.

د یاد سب‌سټېشن د پراختیا چارې اوسمهال په ښه ډول روانې دي چې نږدې راتلونکي کې به بشپړې شي.

اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان له کورنیو سرچینو څخه برېښنا تولید او په دې برخه کې پر ګاونډیو د افغانستان تکیه راکمه کړي. اوسمهال له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا تولید ګڼې پروژې تر کار لاندې دي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون کې د شاوخوا ۲,۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت اته پروژې منظورې شوې



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه د ١٤٠٣ کال د کب میاشتې په ٢٦مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه.

غونډې ته ۲۹ پروژې د بحث له پاره وړاندې شوې چې له ډلې یې د اتو پروژو قراردادونه منظور، د ۱۳ تعدیل، د دوو لغو او شپږ پروژې په تدارکاتي پروسو کې د موجودو ستونزو له امله رد شوې.

په یادو پروژو کې یوه یې د کندهار ولایت د دهلې بند د ساتنې او پاملرنې چارو د بشپړولو پروژه ده. ملي تدارکاتو کمېسیون د دهلې بند

د تخریب د مخنیوي، د ماشینرۍ د ترمیم او د بند د پاک کارۍ چارو پروژه منظور کړه. د دې پروژې په پلي کېدو سره به د بند بدنې ته ډېره توجه وشي او د احتمالي ګواښونو مخه به ونیول شي.

د دهلې بند د سیمې د خلکو له پاره د کرنې او ښنباک اوبو پر برابرولو سربېره د تفریح او میلې ښه ځای دی او د پرچاوۍ پر مهال زرګونه هېوادوال ترې لیدنه کوي.

دغه راز، په کمېسیون کې د کابل طبي پوهنتون د علي اباد روغتون کې د سرطاني ناروغیو د درملنې مرکز د پاتې چارو د بشپړولو پروژې وخت تعدیل او د اویا میلیونو افغانیو په ارزښت پکې ځینې نوې برخې هم منظورې شوې. د یاد مرکز د بیارغونې چارې بشپړېدو ته نږدې دي چې په راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د کندهار ولایت په دامان ولسوالۍ او باغ پُل سیمه کې د ترانسپورټي ترمینلونو جوړولو پروژې هم د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري منظورې شوې. ترمینلونه هېوادوالو ته په سفر او د اموالو په لېږد رالېږد کې اسانتیاوې رامنځته کوي. د ملي تدارکاتو کمېسیون هېوادوالو ته په ترانسپورټي برخه کې د لازمو اسانتیاوو د رامنځته کولو هڅې کوي. کمېسیون له دې وړاندې په کابل، بدخشان او نورو ولایتونو کې هم د ترمینلونو جوړېدلو مهمې پروژې منظورې کړې دي.

په ملي تدارکاتو کمېسیون کې د کابل-کندهار لویې لارې د پاتې برخو د بیارغونې پروژه هم منظوره شوه. کابل – کندهار لویه لار د هېواد د سوداګرۍ له پاره ډېره مهمه ده. نه یوازې د هېواد داخلي سوداګرۍ او ترانسپورټي اسانتیاوو لپاره؛ بلکې له نورو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا له پاره هم د یادې لارې بیارغونه یو مهم کار دی.

اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې له پاره د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د نویو لویو لارو جوړولو او د شته لویو لارو د بیارغونې هڅې پیل کړې دي.

## د بخش اباد بند د اوږده انحرافي تونل چارې بشپړې شوې



د هېواد لویدیځ فراه ولایت کې د بخش اباد بند په چارو کې مهم پرمختګ شوی دی. د ځايي مسوولینو په وینا، د بخش اباد بند د سل متره انحرافي تونل چارې د ټولو ساختماني اصولو په پام کې نیولو سره بشپړې شوې دي.

د مسوولینو په وینا، د یاد بند د یوه کوچني تونل د یو اړخ دروازې د کانکریټ چارې هم بشپړې شوې دي.

د اسلامي امارت د مسوولینو په وینا، په دغه بند باندې شپه او ورځ کار کېږي او ډېره ماشینرې په کې پر کار بوخته ده، څو د یاد بند چارې په خپل وخت او منظم ډول پای ته ورسېږي.

د بخش اباد بند جوړېدل د فراه خلکو یوه مهمه غوښتنه وه. همدې ته په کتو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د غوایي په ۳۰مه نېټه د یاد بند د پاتې چارو پرانیسته وکړه او د فراه اوسېدونکو ته یې ډاډ ورکړ چې یاده مهمه او حیاتي پروژه به بشپړوي.

د بخش اباد بند د څه کم ۷۰ زره هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو او د ۲۷ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

اسلامي امارت د هېواد د اوبو مدیریت او ترې سالمې استفادې ته ژمن دی او هڅه کوي چې افغانستان د کرنې او انرژۍ برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي.